مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۵/۱۲

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

## ۳۷۹ مه پرله پسي برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایدیت:
ډاکټر لودویگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **شیخ علي:** ۵۷ – ۳۴، ۳۰ – ۶۸ «ن»: شیخ علي د پروان ولایت یوه علاقه داري ده چې ۹۰۸ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې چې بزګرې پرګنې دي د ۷۸۸۷ تر ۹۶۷۷ تــنو پورې اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ لوري له شیـبر، له شمال لوري له تاله و برفک، له ختیځ لوري له غوربند او له سویل لوري له سرخ پارسا سره کربنه لري. د شیخ علي علاقه داري ۲۷ کلي لري چې ۶ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| قریـهٔ بابر | | سنگریان | | رباط | | درواز | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بیني سیوک و محمد یار «بیني سیوک سرخ» | | | | Bini Sayuk wa Mohammad Yar (Benisayuk Surkh) | | | |
| بـید «بید دِهٔ کلان» | | Bed (Bed Deh Kalan) | | کوتک دِهٔ کلان | | Kotak Deh Kalan | |
| درهٔ نرخ | Dara -i- Nerkh | دهانِ نرخ | Dahan -i- Nerkh | توچي نرخ | Tuchi -Nerkh | جرف | Jerf |
| کجک | Kajak | سنگ پَر | Sang Par | خواجه که «اولنگ خواجه کوه» | | Khwajaka (Awlang-i-Khwajaka Koh) | |
| نوي | Nawi | خاکِ غلام علي | | تورگیچ «توریچ» | | Torgich (Torich) | |
| بوتیان | Butiyan | سنگ انداب | Sang Andab | بادقول «بیدل قول» | | Bad Qol (Bedel Qol) | |
| گنداب | Gandab | پاواز | Pawaz | جنگلک | | جوقول | Jaw Qol |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| Tana Bed Deh Kalan | تانه بيد دهٔ کلان | Khum -i- Qarghana | خُـمِ قرغنه | Dektor | ديکتور |
|---|---|---|---|---|---|

## شيخ علي هزاره گان:

لاندني معلومات د ډگروال ميلتند د راپور له مخي اخيستل سوي چي د تورن پيکاک د ورځنيو ياد داشتونو په گډون د داستخباراتو دېلي، د افغان سرحدي تحديد د کميسيون د معلوماتو له مخې بشپړ او راټول سوي دي:

# د شيخ علي سيمه

« **عمومي کـتـنـه**: دې سيمې کې چې شيخ علي هزاره گان ميشت دي د هندوکش د سويل لويديځې منتهی اليه په دواړو خواوو کې چې په سيمه ييزه توگه د "کوهٔ ورسندان" [1] په نوم يادېـږي موقعيت لري. په دې توگه د شيخ علي سيمه په دريو ولايتونو کې پرته ده او د بـېلابـېلو ولسواليو برخې برخې جوړوي. د غرنی لړۍ په سويل کې د غوربند سيند د دوه وو سيندونو له يو ځای کيدنې وروسته جوړېـږي، يو سيند ئـې د شيبر له اوب يللونکي يا آب ريز څخه پيلېـږي او د يوې درې له منځه چې "درهٔ شيخ علي" [2] نومېـږي مخ پر ختيځ بهېـږي؛ بل سيند ئـې له "خش" [3] او د "گردن ديوال" [4] په شمال کې د هلمند له اوب يللونکي څخه سرچينه اخلي او د "درهٔ تورکمن"[5] له منځه تـېـرېـږي او په " دو آبِ لولينگ"[6] کې چې د شيبر له کوتل څخه تقريباً ۲۳ مايله ليرې موقعيت لري د شيخ علي له سيند سره يو ځای کـېـږي. د " دره تورکمن" په سويل کې د پغمان ستر، عظيم او لوړ غر ولاړ دی چې په خپله له هندوکش سره سيالي او رقابت کوي؛ د "دره تورکمن" او " درهٔ شيخ علي " تر منځ د بابا د غرهٔ ختيځه انتها پرته ده چې ظاهراً د "کوهٔ درواز"[7] په نوم يادېـږي، خو کيدای سي دا نوم يوازې د بابا د غرهٔ د همدې انتها پای ته اطلاق سي. د " درهٔ شيخ علي" او د "سرخاب" د سيند تر منځ چې په تـنگې درې او نورو اړوندو ژورو منځرونو يا ميان کوه گانو کې ئـې له يوې مخې شيخ علي هزاره وگړي ديره دي "کوهٔ ورسندان" واقع سوی دی، په دې توگې شيخ علي وگړو نـهٔ يوازې سرخاب او اړوند منځغرونه ئـې تر دوشي پورې چې په کې سيند مخ پر شمال تاويېـږي، نيولې بلکه د دوی لمنه بره د غوري تر لويديځې ډډې پورې غځيدلې او همدا شان ئـې د هندوکش د شمالي اړخ په اوږدو کې غځون موندلی دی او دلته د خنجان په کوچنۍ ولسوالي کې ټول له يوې مخې دوی ميشت دی او په اندراب کې هم د دوی لړوالی نـهٔ سته. »

«د شيخ علي سيمه کيدای سي په دريو برخو وويشل سي. لومړی د کابل په ولايت کې چې هلته د شيخ علي د ولسوالي په نوم يادېـږي او په دې کې "دره شيخ علي" او " دره تورکمن" راځي، دا دواړه درې د "پارسا"[8] له منځغري سره يو ځای راځي چې د "دو آبِ لولينگ" له خولې کوز موقعيت لري. بيا د "کوهٔ جلميش"[9] په بلې خوا کې او "دهان جمليش" [10] کې

[1] -Koh -i- Warsandan
[2] -Dara Shaikh Ali
[3] -Khesh
[4] -Gardan Diwal
[5] -Dara Turkoman
[6] -Doab -i- Loling
[7] -Koh -i- Darwaz
[8] -Parsa
[9] -Koh -i- Jalmish
[10] -Dahan -i- Jalmish


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

شیخ علي وګړي دي. له «دهان جملیش» کوز تاجیکان میشت دي او په تاجیکانو پسې په "دو آبِ میخ زري"[11] کې تاتاران[12] دي. شیخ علي وګړي یو ځل بیا له "دو آب میخ زر" کوز پیلېږي او تر "شتر جنګل"[13] پورې غځېږي، "جلمیش" په بامیانو کې راځي او بامیان د کابل یوه ولسوالي ده او پاتې نور ئې د افغان تورکستان د دو آب په ولسوالي کې میشت دي. دریم د غوري، دوشي، خنجان، اندراب هزاره ګان دي او دا ټول د بدخشان د ولایت برخې دی.

« **ځانګړتیاوې او ذاتي لیوالتیاوې**: شیخ علي وګړي له سیمه ییز ملک او د طایفو «ځانګو» له اربابانو پرته قومي مشران نـهٔ لري. دوی ډېـر بد شهرت لري، داسې ښکاري چې د دوی مداوم ځپل د اړتیا او ضرورت له مخې ول او شک نـهٔ سته چې دا تر ډېـره د دوی اوسنی ګوډ او ماتې او نامنظم وضعیت په دلیل دی. په همدا تـېـرو نېـږدو وختونو کې د امیر شیرعلیخان د سلطنت پر مهال شیخ علي وګړو د «قره کوتل» په اوږدو کې مسافرین لوټل، دوی ان تر دې حده ورسیدل چې د تورکستان د قافلې لاره ئې تقریباً بنده کړه. دوی ان په ۱۸۸۳ز کال کې یو کاروان چور کړ؛ داسې ښکاري چې دوی ته ډېـر ژر د دې لوټ په بدل کې اغیزمنه سزا ورکړل سوې ده، د دوی په سیمې باندې سرتـېـري او د مالیاتو محصلین له دریو خواوو واستول سول. دوی اړ ایستل سول چې درندې جریمې ورکړي او قسماً خلع سلاح سي. داسې ښکاري چې د دغو ظلمونو او شناعتونو ټول مسؤولیت د سرخاب د شیخ علي وګړو پر غاړه وي، او د «دو آب» د تاتارانو مشر دلاور خان چې ځانته مستمري یا د مالیاتو معافیت لري په دو آب کې میشت شیخ علي هزاره ګان په نظم او اطاعت کې ساتلي دي. د دوشي، خنجانو او نورو ځایونو شیخ علي وګړي هم لوټ او تالا ته لیواله دي؛ کله چې په ۱۸۸۶ز کال کې موږ له دغو ولسوالیو تـېـریدلو دا نوم هماغسې نوم وو چې موږ ته مخکې شرحه سوی وو، له ټولو هزاره ګانو سره چې موږ مخامخ سوو دوی نـهٔ منله چې دوی دی شیخ علي وګړي وي، دوی خپل ځانونه خنجانیان بلل. پر تخت باندې د عبدالرحمن خان له جلوس وروسته شیخ علي د نورو مزاحمو او جنجالي قبـیـلو په څیر بشپړ اطاعت ته راټیټ او اړ ایستل سول چې مالیات ورکړي. کله چې د سرحدي تحدید ډله د دوی له سیمې تـېـریدله داسې بریښیدله چې دوی آرام او زیارګالي بزګران دي. هیڅ شک نـهٔ سته چې دوی د نورو هزاره ګانو په شان زیارګالونکي او زحمت کش خلک دي او په مشخص ډول جنګیالي خلک نـهٔ دي. د سرخاب د سیند په اوږدو کې د دوی سیمې ته نـهٔ لاسرسی او د هندوکش په منځغرونو کې د دوی قوت او ټینګوالی هغه عوامل دي چې دوی ته ئـې د دغو شیطاني اعمالو وړتیا وربخښلې وه. په دې وروستیو کلونو کې د اسحق خان د ۱۸۸۸ز کال د بغاوت پر مهال شیخ علي وګړو هم تر یوې کچې پاڅون وکړ. داسې بریښي چې د دواب د تاتارانو مشر دلاور خان ځان سردار اعلان کړ او د دواب له شیخ علي وګړو ئـې وغوښتل چې دوآب دې پرېـږدي او ودې وځي. امیر عبدالرحمن خان چې د تورکستان پر لور روان وو د سرخاب د سیند لاره ئې ونیوله او دلاور خان چې بندي نیول سوی یا په خپله تسلیم سوی وو په «دشتِ سفید» کې اعدام سو. امیر عبدالرحمن خان د شیخ علي له وګړو سره هیڅ غرض ونـهٔ کړ ځکه دوی غلي او چوپ پاتې ول خو امیر په څرګنده وروښودله چې کله بیرته راستون سي نو له دوی سره به ګوري.

«**فزیکي جوړښت او وسلې**: شیخ علي وګړي تر ډېـره ډېـرښـهٔ او زیارګاله نژاد دی او هماغسې چې هیله ئـې کـېـږي ښـهٔ غرني خلک دي. د دوی وسلې چنداني د کار نـهٔ دي یعنې دوی توپک نـهٔ لري او کیدای سي دوی د اور کولو هیڅ

---

11 -Doab -i -Mekh zari
12 -Tatars
13 -Shutar Jangal


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ډول وسله ونـهٔ لري. د سرخاب شيخ علي وګړو پيکاک ته هيڅ نـهٔ منله چې دوی دې کومه وسله ولري؛ د دې دليل په دې کې وو چې پورته مو يادونه وکړه چې په ۱۸۸۳ز کال کې دوی يوه قافله لوټ کړه، له دې وروسته په دوی باندې دا سزا کښېښودل سوه چې هر کور دې يو توپک او يوه توره د جزا په توګه حکومت ته وسپاري نو له دې کبله ښايي د دوی په منځ کې دې نوره کومه وسله نـهٔ وي پاتې. پيکاک د سرخاب د شيخ علي وګړو د جامو په هکله کومه کتنه نـهٔ ليکي خو د دوشي او خنجانو په هکله وايي چې دوی په ندرت سره د هزاره ګانو مشخصه خولی پر سر کوي چې په لومړيو کاتو سره له تاجيکانو څخه ئـې توپير په همدې خولی کـېـږي.

„ د نورو هزاره ګانو په پرتلې د افغانانو ـپښتنو ـژ. پر وړاندې د شيخ علي هزاره ګانو احساس په عام ډول له دښمنۍ ډک دی، هيڅ يو د دوی خپل اربابان نـهٔ خوښوي. پيکاک په دې فکر کې دی چې که روسي سرتـيري پرمختګ وکړي شيخ علي وګړي به بې پرې يا بې طرفه پاتې سي څکه د دوی په راتګ سره هم دوی د دې هيله نـهٔ لري چې د دوی په وضعيت کې دې کوم بدلون راسي.„

„**لوړوالی او اقليم**: د شيخ علي سيمه د سترو غرنيو لړيو سيمه ده چې ژورو درو سره جلا کړې او ډول ډول اقليم لري. د هندوکش په سويل کې په درهٔ شيخ علي او نورو ځايونو کې د هزاره ګانو د استوګنو سيمو لوړوالی د ۷۰۰۰ او ۸۰۰۰ فيټو په لوړوالي کې دی. هندوکش تر ۱۶۰۰۰ فيټو پورې لوړيـږي او له پاسه تر ۱۲۰۰۰ فيټو پورې غرونه تر تقريباً نيم کاله پورې په واورو کې پټ وي. خو دلته په درو کې په خپله واوره لږ ده او نسبتاً لږ څمکه سته چې د کرنيزو توليداتو لپاره وي د دوشي او خنجانو په ګډون څمکو کې حبوبات، وريجې، مې „ماش„ او سابـهٔ او ميوې توليدېـږي. ښه به دا وي چې د شيخ علي د سيمې د هرې برخې لنډه شرحه دې په جلا جلا توګه ورکړل سي.„

„**سړکونه**: په دريو اساسي غرنيو لړيو يعني د پغمان په غرنی لړۍ کې د درواز „د بابا د غرهٔ„ په لړۍ او د ورسندان „هندوکش„ په لړۍ کې بې شمـېـره لارې تللي دي. د دغو لارو اکثريت چې د سيمه ييزو ترافيکو له پلوه کارول کـېـږي يوازې ناهمواره پل لارې دي او يا „د سختۍ په ګاللو سره„ د غوايانو او خرونو د سيمه ييزو يابوګانو د تګ لپاره مناسبې لارې دي چې له غرونو سره بلد څاروي دي. په عين حال کې يو شمـېـر ډېـرې مهمې لارې هم سته چې د شيخ علي هزاره ګانو له سيمې څخه تـېـرېـږي. له ختيځه په پيل سره د„کاوشان„ د کوتل لاره ده چې په خنجانو منتهي کـېـږي. دا تر بدخشان او تورکستان پورې زړه عمومي لاره ده. بله ئـې د „چهار دَر„ د کوتل لاره ده، چې په هندوکش کې اوسنۍ عمومي لاره ده. دريمه لاره هغه لاره ده چې د غوربند او درهٔ شيخ علي له ټول منځه تـېـره سوې د شيبر تر کوتل پورې تللې ده او همدا لاره باميانو ته رسيدلې ده. څلورمه لاره د سرخاب سړک دی. „

„د شيـبر کوتل چې يو مخ خلاصی اوب يللونکی دی او هندوکش لويديځه انتها له کوهٔ درواز سره نښلوي څکه يوه ډېـره مهمه لاره ده چې دا لاره ټول کال پرانيستې وي او په دې توګه د کابل او د بدخشان د ولايتونو او د تورکستان تر منځ د ژمي په مياشتو کې د اتصال يوازې لاره جوړوي.„

## لومړی: د شيخ علي ولسوالي

د شيخ علي ولسوالي„له غوربند سره جوخت خو ورڅخه توپير لري„لاندي معلومات تقريباً ټول ئـې د پيکاک له پلوه ثبت سوي دي، پيکاک د ۱۸۸۶ز کال د اکتوبر په مياشت کې له دې سيمې تـېـر سوی دی„


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

« د شیخ علي ولسوالي زما د معلوماتو له مخې له دغو برخو جوړه سوې ده:

| | |
|---|---|
| ۱ | دره شیخ علي |
| ۲ | دره تورکمن |
| ۳ | د پغمان د غرنۍ لړۍ د پارسا منځغرۍ یا میان کوه |

## «دره شیخ علي»

د شیبر د کوتل له بیخ «پای کوتل ِ شیبر» [14] څخه د «تورکمن درې» تر سیند پورې چې له «قلعهٔ دو آب» [15] لږ پورته د «ولینګ» [16] له تنګي څخه راوځي ټول واټن نېږدې ۲۱ مایله دی. د درې ارتوالی له یوهٔ ځایه تر بل ځایه ډېر توپیر کوي. د لوی والي اوسط ئې تر «بیني سِهوَک» [17] پورې تقریباً ۴۰۰ یارډه دی. له دې وروسته په «نوي» [18] کې دا لویوالی تر یوهٔ لنډ واټن پورې یو نیم مایل ته رسېږي. په «ګزار چمن؟» [19] کې یو ځل بیا د مایل یو ثلث ته راټیټېږي. له دې وروسته ډېر ژر په تنګي بدلېږي او تر «دو آب ِ لولینګ» [20] پورې همداسې دوام مومي. د درې پراخه برخه ډېره کرل سوې ده چې بې شمېره کلي لري او تر کلیو د میوو بڼونه راتاو دي. د بې شمېرو فرعي منځغرونو په خولو او کوزنیو برخو کې چې یو شمېر ئې لوی لوی هم دي ډېر ښهٔ کرل سوي دي.

«د غنمو او وربشو تر څنګ جوار هم تر ډېره کرل کېږي. په ټوله کې له دې ځایه اړتیا توکي په ډېره اندازه تر لاسه کیدای سي او ویل سوي چې «د پغمان د غرنۍ لړۍ په سویل کې» له «شیخ درې» [21] څخه غلزي په لوی شمېر کې راځي او د دوی مازاد محصول پیري.»

«په دې درې کې نهٔ یوازې پسونه بلکه غواګانې هم ډېرې دي. د سپرلۍ لپاره آسونه ډېر لږ او کم پیدا دي خو د یوې څرګندې شمېرې باروړونکي یابوګان په دې درې کې ستهٔ دي. غوایان هم تر ډېره په ترانسپورتي چاروکې کارول کېږي.»

«د پیکاک په خبره، په «پای کوتل» کې واوره په ندرت سره د ځمکې پر مخ له ۲ فیټو پورته پاتې کېږي، څرګنده ده چې د درې په کوزنۍ برخې کې واورې تر دې هم لږ دي. له دې کبله د دې درې اقلیم ان په ډېر ساړهٔ ژمي کې هم توپیر لري.»

«لاندني د دې درې د خلکو شرحه وړاندې کېږي:

| قومي ځانګه | | | موقعیت | کورنۍ |
|---|---|---|---|---|
| کرم علي «شیعه ګان؟» | | | پای کوتل «۱۰»، درهٔ شینګریان «۵۰» | ۶۰ |
| دای کلان | Dai Kalan | شیعه ګان | د شیخ علي بره یا پورتنۍ دره ۶۰۰ | ۶۶۰ |

---

[14] -Shibar Kotal (Pai Kotali-Shibar)
[15] -Kala Doab
[16] -Loling defile
[17] -Bini Sehwak
[18] -Nawi
[19] -Gazar Chaman
[20] -Doab- i- Loling
[21] -Shaikh Dara


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ملک: اسدالله | دره سگ پُر ۶۰ | Dara Sagpur | |
| نیمان | Naiman | شیعه گان<br>هماغه ملک اسدالله | له دای کلان کوز دره شیخ علي «۳۰۰»، بید قول «۶۰»، قلعـۀ قاضي «نوي» «۱۰» | | ۳۷۰ |
| قرلق یا کلوک | Karluck or Kalluk | سنیان<br>ملک: میرزا اکبر | دره شیخ علي له نیمان کوز «۵۰۰» دره تاوري «۶۰» | Dara Taori | ۵۶۰ |
| علي جم | Ali Jam | ۳/۲ شیعه گان او ۳/۱ سنیان | دره شیخ علي له کلوک کوز | | ۳۰ |
| بابر | Babar | سنیان | درۀ بیهوده | Dara Behuda | ۶۰ |
| نیک پای | Nekpai | شیعه گان | کوۀ خورد او قول لیچ یا لچ: ویل کـېـږي چې دغه دواړو څنګ پر څنګ درې په غوربند کې دي. | | ۱۰۰ |
| تولټال | | | | | ۱۸۴۰ |

„ پیکاک څو نورې قومي څانګې یادوي لکه: صد مرده، هشت خواجه او دولت بیګ. خو د صد مرده څانګه په جلمیش کې میشته ده او هشت خواجه د سرخاب په اوږدو کې او دولت بیګ یا „ پای»[22] د بهسود هزاره ګانو یوه څانګه ده. کیدای سي د یادو سویو قومي څانګو یو شمـېـر په شیخ علي کې میشتي وي خو د استوګني سیمې ئې په شیخ علي کې موږ ته څرګندي نـۀ دي.

„شیخ علي وګړي بزګران دي خو د پام وړ په شمـېـر کې پسونه او غواګاني هم لري. پیکاک د دوی د دغو څارویو شمـېـر په لاندي ډول ورکوي:

| سیمه | د پسونو رمې | غواګاني |
|---|---|---|
| دای کلان | ۱۵۰ | ۱۲۰۰ |
| نیمان | ۴۰ | ۶۰۰ |
| قرلق | ۲۰۰ | ۷۰۰ |
| علي جم | ۱۰ | ۲۰۰ |
| بابر | ۱۰ | ۲۰۰ |
| تولټال | ۴۱۰ | ۲۹۰۰ |

„ د هرې رمې شمـېـر نه دی ویل سوی خو کیدای سي د رمو اوسط له ۲۰۰ پسونو څخه به لږ نـۀ وي. ان همدغه اوسط موږ ته یوازې په درۀ شیخ علي پورې اړوند د ۸۲۰۰۰ تول ټال لویه شمـېـره نـۀ راکوي.»

„ د درې شیخ علي وګړي قسماً سنیان دي، د بـېـلګې په توګه د قلعه نو د قبـیلي په استثناء، نور هزاره ګان عادي مسلمانان دي. په پورتـني جدول کې یاد سوي سنیان ډول د درې په کوزنی برخې کې میشت دي حال دا چې د درې پورتـنی برخه شیعه میشه برخه ده. له دې خبرې دا اقتباس کولای سو چې کیدای سي د شیخ علي سنیان د خپلو افغان „پښتنـو – ژ ګاونډیانو تر ډېـر فشار لاندې راغلي وي او لا تر اوسه „د تولو احتمالاتو په پام کې نیولو سره„ د قلعـۀ نو د هزاره ګانو په شان په خپلو زړونو کې شیعه ګان دي.

„ د خاص شیخ علي د درې شیخ علي وګړي ظاهراً ماړۀ او شتمن خلک دي. دوی „شاید نتیجتاً„ ډېر آرام او د ډېر ښـۀ چارچلند خلک وي.»

---

[22] -Pai



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

« **درۀ تورکمن او د پارسا منځغرۍ**: «تورکمن دره» یوه ډېــره لویه دره ده چې د بابا د غرۀ د ختیځ امتداد یعنې د «کوۀ درواز» او د پغمان د غرنۍ لړۍ تر منځ واقع ده. د دې درې په سر کې د «کـــِش» [23] کوچنۍ دره ده؛ دا دره پینځه شپږ کوچني منځغري لري چې بهسودي هزاره گان په کې مېشت دي او د بهسودو په علاقه داری پوره اړه لري. پیکاک، تورکمن دره یوه ښکلې، حاصلخیزه او په ونو پوښلې دره شرحه کوي. داسې ښکاري چې د سیمې په دې برخې کې د سون توکو اصلي سرچینه همدا دره ده، او هغه لرگي چې د فرنجل د سرپو په کان کې د کاني تېرو دویلي کولو لپاره کارول کـېـږي له همدې ځایه اخیستل کـېــږي.

«تورکمن دره» د شیخ علي له درې سره موازي پرته نـۀ ده، دا دره د هلمند په اوب یللونکي یا آب ریز کې له «کوتلِ لکشان» [24] څخه پیل کـېــږي، د ۸۰ مایلو په واټن مخ پر شمال ختیځ غځېدلې ؛ بیا مخه شمال ته اړوي او د لولینگ په کلي کې یا ورڅخه لږ کوز په یوۀ ډېــر تـنـگ تـنـگي بدلېــږي. له همدې تـنـگي هغه سیند راوځي چې له قلعـۀ دو آب پورته د شیخ علي د درې له سیند سره چې پورته مو یادونه وکړه یو ځای کـېــږي.»

«د تورکمن درې وگړي په لومړیو کې تورکمنان ول چې له خپل هیواد څخه دلته راکډه سوي ول، دا تورکمنان اوسمهال د خپلې استوگنې په اوسنۍ سیمې کې ژوند کوي. دوی دومره له هزاره گانو سره د کورنیو وصلتونو یا ودونو له کبله گډ سوي دي چې له سره تر پایه ټول هزاره گان سوي دي. او دا لړۍ لږ تر لږه د بابر د سلطنت او سفر له مهاله را راوانه ده، په ۱۵۰۶ – ۱۵۰۷ز کال کې بابر د ژمي په فصل کې له هراته تر کابل پورې د خپل مارش په ترڅ کې د شیبر له کوتل څخه له تـېــریدلو وروسته تورکمن هزاره گانو باندې برید وکړ او لوټ او تالان ئـې کړل. د دغو خلکو په هکله لږ معلومات زموږ په لاس کې دي، ظاهراً د دوی شمــېــر ډېــر دی. دفعه دار امیر خان وایي چې د دوی شمــېــر په درېو څانگو یعنې «شادي بیگ»، «منصوري» او «علي مد د» کې تر ۳۰۰۰ کورنیو پورې رسېږي. د پیکاک د معلوماتو پر بنسټ د دوی شمــېــر ۴۰۰۰ کورنۍ دی او دوی څلورم طایفې دي یعنې: «بچه شادي»، «منصور»، «خضر» او «سرخ». داسې ښکاري چې اخیر الذکره شمــېــره یو ډېــر لوړ اټکل دی او دې کې شک نـۀ سي کېدای چې د دوی شمــېــر تر ۳۰۰۰ کورنیو پورې دی ؛ هماغسې چې ښاغلی درومند د خپلو معلوماتو له مخې وایي دوی په درواز کې استوگن دي. د همدې سرچینې پر بنسټ د پارسا هزاره گانو ۵۰۰ کورنۍ د پارسا په منځغري کې استوگنې دي چې گاونډۍ دره ده او په همدومره اندازه لویه ده، د پارسا دره د پغمان له غرنۍ لړۍ څخه راکوزه سوې ده او له «قلعه دو آب» څخه څو مایله کوز په «چهاردهي» کې د «غوربند» په درې کې راخلاصېږی. د «پارسا» د منځغري په هکله او د پارسا د وگړو په هکله عملاً کوم معلومات په لاس کې نـۀ لرو. د موجوده معلوماتو پر بنسټ دا ټکی په مصؤون ډول ویلای سو چې د «پارسا» د منځغري او د «تورکمن درې» د وگړو ټول ټال شمــېــر ۴۰۰۰ کورنۍ وگڼو. معهذا دا د ویلو وړ ده چې دوی شیخ علي وگړي نـۀ دي خو د اوسنۍ موخې لپاره ئـې په دوی کې شمــېــرو.

«په دې توگه د شیخ علي د ولسوالي د وگړو ټولټال شمــېــر کېدای سي شپږ ۶۰۰۰ زره تنه اټکل کړو.»

[23] -Kesh

[24] -Kotal -i- Lakshan



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

«په ۱۸۸۶ز کال کې حاکم ئې یو کندهاری افغان «پښتون –ژ» میر سلطان وو چې د کابل د ښار کوتوال «نائب کوتوال؟» هم دی. څرګنده نـۀ ده چې د دې ولسوالي مالیات به څومره وي خو شک نـۀ سته چې دا ولسوالي په منظم ډول له مالیاتي اړخه ارزول کـېـږي او له وګړو مالیات راټولېـږي.»

«**سړکونه**: د اساسي یا عمومي سړک تر څنګ چې د شیخ علي د درې له سره تر پایه غځېدلی دی او د شیبر د کوتل له لارې تر بامیانو پورې تللی دی، ګڼ شمـېـر لارې د شمال او سویل د دنګو غرنیو لړیو په منځ کې سته چې په پخواني استقامت د درو له منځه تر «سرخاب» پورې راغلي دي او له «سرخابه» تر «تورکمن درې» پورې ئې غځون موندلی دی. پیکاک په «بندِ ورسندان» «هندوکش» [25] کې د شمالي لارې په هکله وایي چې دا لارې قاعدتاً ډېـرې بدې او د غرنۍ لړۍ په شمالي اړخ کې ډېـر سختې پل لارې دي خو تل مدام د باروړونکو کچرو لپاره په هغو منځغرونو کې د تګ لپاره عملي دي چې له شیخ علي علي مخ پر سویل منتهي کـېـږي؛ د «کاوشان» او «چهار دَر» [26] د کوتلونو سړکونه، چې مخکې مو وویل چې له شیخ علي څخه نـۀ بلکه د غوربند له درې څخه پیل کـېـږي، ویل کـېـږي چې د لارو د تګ د سختۍ درجه ئې باید په شمال کې د سرخاب د لارو په پرتلې لوړه وي. په دغو لارو کې تر ټولو ښه لاره د «زاک» [27] د کوتل له لارې تر «درۀ رباط» [28] او کښته تر «درۀ مرغ» [29] پورې لارې دي خو دا هم سختې لارې دي. داسې ښکاري چې لږ تر لږه پینځه شپږ لارې د «کوۀ درواز» له لارې مخ پر سویل تر «تورکمن درې» او «کش» پورې تللې دي. دا لارې د هندوکش د نورو لارو په پرتلې لږ سختې دي، یو شمـېـر خو ئې ان د سیمه ییزو اوښانو د تګ لپاره عملي دي. پیکاک وایي چې د «سګ پَر» [30] د منځغري او د «سګ پَر د کوتل» [31] له لارې تر «ګلک» [32] پورې لارې د سیمه ییزو ترافیکو لپاره تر کابل پورې اساسي لارې دي خو آیا دا چې دا لاره له «ګلک» څخه پورته په درې کې او د «لشکان» [33] د کوتل له لارې تر «ګردن دیوال» یا د «پغمان» په غرنۍ لړۍ کې تر کوهدامن پورې ځي که نـۀ ځي لا روښانه نـۀ ده.

«د پیکاک د معلوماتو پر بنسټ له «قلعـۀ دو آب» څخه تر «تـنګي لولینګ» [34] پورې د اوښ د تګ یوه ښه لاره تللې ده. د تـنګي په پورتـنۍ انتها دره دا لاره په دریو څانګو ویشي. د ښي لاس لاره «تورکمن درې» ته ځي ؛ دا لاره یو ځل بیا په دوه وو لارو ویشل کـېـږي چې یوه لاره ئې د «خش» [35] له لارې تر «کوتل عراق» [36] پورې؛ او بله ئې د «لکشان کوتل» [37] له لارې تر ګردن دیوال پورې تللې ده. د دریو لارو په منځ کې منځنۍ لاره له «درۀ سرخ؟» [38] څخه په پغمان کې تر «کوتن در» [39] پورې ځي او د کیڼ لاس لاره ځان د پارسا تر منځغري پورې رسوي.

---

[25] -Band -i- Warsandan (Hindu Kush)
[26] -The Kaoshan and Chahardar pass roads
[27] -Zak Kotal
[28] -Dara Robat
[29] -Dara Murgh
[30] -Sagpar glen
[31] -Sagpar Kotal
[32] -Gulak
[33] -Lakshan
[34] -Tangi Loling
[35] -Khesh
[36] -Kotal Irak
[37] -Lakshan Kotal
[38] -Dara Surkh
[39] -Kotandar in Paghman


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

«**اړتیا توکي**: د غلاتو، وښو، بهوسې او باغي محصولاتو اړتیا توکي د شیخ علي په درې کې تر لاسه کیدای سي او ښایي په تورکمن درې کې هم تر لاسه سي. سون توکي د شیخ علي په درې کې ډېـر لږ دي خو په تورکمن درې کې بیا پریمانه دي. د اوښانو د څریدلو لپاره پوونده د شیخ علي په درې کې زښته ډېـره لږ ده خو ویل سوي چې د څنگ په گاونډیو درو کې ښې پووندې سته.»

نور بیا
*** شانشي خیل**:...

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ